شتمنی
SHTAMANAI

قرآني آیت:

او څوك چې لـه الله ویریږي؛ الله جل جلاله بـه د نجات لار ورتـه پرانیـزي او لـه داسي لاري بـه رزق او روزي ورکـړي چې گـمان ئې هـم نـه کـوي، او څوك چې پـر الله تـوکل وکـړي نـو هغـه ورتـه کافي دئ، یقینـاً چې الله خپـل کار تـه رسـېدونکی دئ، بـې شـکه چې الله د هـر کار لپـاره حـد او نېټـه ټاکلـې ده.( سـورة الطـلاق: آیـت، ۲-۳)

یکشنبه | ١٦ رمضان ١٤٤٣ / ٢٨ حمل ١٤٠١ | ١٧ اپریل ٢٠٢٢ | سال اول | شماره ١٨ | ٤ صفحه



# د رهبرۍ شورا نهمه نوبتي ناسته ترسره سوه

د مالیې وزیـر الحاج ملا هدایت الله بدري، په مشرۍ د دې وزارت د رهبرۍ شـورا نهمه نوبتي ناسـته، چې د یو شـمېر ریاسـتونو رئیسانو، د مقام سـلاکارانو او د گمرکاتو او عوایدو معین هم گډون پکښـې کړی وو، د قران عظیم الشـان د مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل سوه.



د ناسـتې پـه پیـل کـې د مقـام رهـبرۍ غـړو لـه لـوري، گډونوالـو تـه لومـړی د تېـرې ناسـتې د پرمختگونـو، پرېکـړو، لاسـته راوړنـو او خنډونـو بشـپړ راپـور وړانـدې سـو او ورپسـې د اړونـدو مسـؤلینو لـه خـوا د مالیـې وزارت لپـاره د ۱۴۰۱ کال پـر تشـکیل، د ادارو پـه رسـمي چـارو کـې د هجـري لمریـز او هجـري سـپوږمیزو نېټـو پـه کارولـو او پـه ولایتونـو کـې د مسـتوفیتونو او گمرکونـو څخـه د کورنـۍ پلټنـې لـوی ریاسـت د توظیـف سـوي هیئـت د ارزوني راپـور پـه تـړاو خـبري او بحثونـه وسـول، همدارنگـه د دولتـي شرکتونـو لـوی ریاسـت غوښـتنه وکـړه، چـې یـاد ریاسـت غـواړي د خپلـو شرکتونـو لپـاره پراختیایـي پـلان جـوړ کـړي؛ نـو د لا غـوره والي لپـاره دي د رهـبرۍ شـورای غـړي خپـلي مشـورې او نظرونـه پـه لیکلـې بڼـه د دولتـي شرکتونـو لـه لـوی ریاسـت سره شریکـې کـړي.

د راپـور لـه اورېـدو وروسـته د مالیـې وزیـر الحاج ملا هدایت الله بـدري، د تېـرې ناسـتې د پرېکـړو پـه پرمختگونـو خوښـي وښـوده او زیاتـه یـې کـړه، چـې پـه کارونـو کـې چټکتیـا او پـر تـاکلي وخـت دنـدو تـه د کارکوونکـو راتـگ د دوی ایـماني دنـده ده او د روژې پـه مبارکـه میاشـت کـې پـه صداقـت او ایمانـدارۍ کار تـرسره کـول هـم ثـواب او هـم غـوره عبـادت دئ. لـه ټولـو کارکوونکـو غوښـتنه کـوم، ترڅـو پـه دغـو مبارکـو شـپو او ورځـو کـې خپـل خدمتونـه لا غـوره او چټـک کـړي.

پـه پـای کـې پرېکـړه وسـوه، چـې د دغـې ناسـتې د پرمختگونـو، لاسـته راوړنـو او ورسره مـخ کېدونکـو خنډونـو بشـپړ راپـور دې پـه را روانـه ناسـته کـې پـه ډاگـه او پایلـې دې شریکـې سي.

## د مالیې وزارت د مالیاتي شخړو د حل بورډ

د مالیـاتي شـخړو د حـل بـورډ، چـي د مالیـې وزارت پـه چوکاټ کـي فعالیت کـوي، د لومـړي ځـل لپـاره د ۱۳۹۴ کال د افغانسـتان د مالیـاتي چـارو د اداري قانـون د رسـمي جریـدې ۵۵ مـي مـادې د حکـم پـر بنسـټ، د مالیاتي تصمیمونـو پـه اړه د اعـتراض ارزونـې پـه موخـه رامنځتـه سـوی دئ.

یـاد بـورډ، چـې د رئیـس پـه گډون د پنځـه غړیـو او دارلانشـاء درلودونکـی دئ، د تصمیم نیونې او پرېکړو پـه برخـه کـي بشـپړ متخصص، بـې پـرې او خپلـواک دئ.

د مالیـاتي شـخړو د حـل بـورډ اسـاسي موخـي د مالیـاتي عدالـت تامینـول، د مالیـه ورکونکـي قناعـت حاصلـول او د مالیاتـو پـه ورکـړه کـي د اطاعـت منلـو د کچـي لـوړول دي.

دغـه بـورډ د چـارو لـه پیـل څخـه را وروسـته د (۱۴۰۰ل.) مـالي کال پـوري ټولـې ۱۲۳ قضیـې څېړلـې او حـل کـړي دي، چـي لـه درکـه یـې تـر یـو میلیـارډ افغانیـو پـوري عوایـد د دولـت حسـاب تـه تحویـل کـړي دي.

د اسـلامي امـارت لـه راتـگ وروسـته یـاد بـورډ د (۱۴۰۰ل.) مـالي کال پـه وروسـتیو ۷ میاشـتو کـي د ۲۰ مهمـو قضیـو پـه هکلـه پرېکـړې صادرې کـړي او ۶ قضیـې تـر غـور لانـدې لـري، چـي لـه درکـه یـې، (۵۲۵،۶۶۹،۸۱۸) د پنځـه سـوه شـپږ ویشـت میلیونـه شـپږ لکـه نهـه شـپیته زره افغانیـو پـوري عوایـد د دولـت مـلي خزانـې تـه پـر تحویلولـو حکـم سـوی دئ.

د مالیـاتي شـخړو د حـل بـورډ د (۱۴۰۱ل.) مـالي کال لپـاره عمـده پلانونـه لـري، چـي د مسـودې نهایـي کـول، پـه مرکـز او ولایتونـو کـي د عامـه پوهـاوي پروگرامونـو پـه لاره اچـول او پـه زونونـو کـي د بـورډ د مدیریتونـو ایجـاد او اسـتخدام هـم پـه بـر کـي نیسـي.

سرمقاله

## د قوش تیپې کانال، د زراعتي هیواد پر لوري نوي گامونه

یـو دوه اونـۍ وړانـدې د بلـخ پـه ولایـت کـې د قـوش تیپې اوږد کانـال د جوړېـدو پرانیسـته وسـوه، چې دغې پرانیسـتې تـه د افغانسـتان اسـلامي امـارت د رئیـس الـوزرا لومـړي مرسـتیال مـلا عبدالغني بـرادر پـه گډون د مالیـې وزیـر الحـاج مـلا هدایـت اللـه بـدري او دولـت یـو شـمېر لـوړ پـوړي مسـؤلین علـماء، قومـي مخـور او د شـاوخوا سـیمو او ولایتونـو مـشران او خلـك ورغـلي وو. دغـه پـروژه د مالیـې وزارت اړونـد د مـلي پراختیـا شرکـت پـه زیـار او کورنیـو عوایـدو څخـه جـوړې سـوي بودیجـې پـه مرسـته تـرسره کیـږي. دغـه کانـال د افغانسـتان پـه شـمال کـې لومړنـی او تـر ټولـو سـتر کانـال دئ، چـې د بلخ ولایـت پـه شـمول پـه څلـورو شـمالي ولایتونـو کـې د کرنیـزو ځمکـو خړوبولـو، باغونـو جوړولـو او د پراخـو زراعتـي سـیمو او سـترو باغونـو او سمسـورو زرغونـو فصلونـو پـه رامنځتـه کولـو کـې بـه گټـه تـرې اخیسـتل کیـږي. یـاد کانـال چـې د امـو لـه بهانـده سـیند څخـه را بېلېـږي او د کانـال پیـل بـه هـم لـه بلـخ ولایـت څخـه وي او تـر جوزجـان او سرپـل ولایتونـو بـه و غځېـږي، پـه کرنیـزه برخـه کـې بـه پـه راتلونکـو څـو کلونـو کـې د افغانسـتان کرنیـز سـکټور تـه سـتره تکیـه او اړم ورکـړي.

د دې کانـال د پیلولـو لپـاره مالیـې وزارت پـه نـه او لـږو امکاناتـو پـه داسې حـال کـې چـې د پراختیایـې پـروژو لپـاره ځانگـړې بودیجـه نـه لـري او یـا هـم ډېـره لـږه ده ۸ میلیـارده افغانـۍ ځانگـړې کـړې؛ ترڅـو یـې لومړنـۍ چـارې روانـي سي او لـه پنځـه کالـه وروسـته بـه لـه همـدې کانالـه د کـرنې پـه برخـه کـې گټـلي پیسـې بېرتـه د کانـال د پـروژې پـه دوام او بشـپړولو لگـول کیـږي. د قـوش تیپـې کانـال د پـروژې پـه عمـلي کولـو سره بـه (۲۵۰) زره کاریگـرو تـه د کار زمینـه برابـره سي او ورسره بـه (درې نیـم میلیونـه جریبـه ځمکـه) چـې د هیـواد پـه کچـه تـر ټولـو پراخـه او بېسـارې ده خړوبـه او د کـرنې د پرمختـگ سـتر فرصتونـه بـه رامنځتـه کـړي.

د هیـواد پـه دې حساسـو او بـې سـارې نازکـو اقتصـادي شرایطـو کـې د اولـس د هوسـاینې پـه موخـه د قـوش تیپـې پـروژه یـوه مهمـه مـلي او نـړۍ والـه پـروژه ده، چـې پـه تـرسره کېـدو سره بـه یـې زراعـت او مالـداري وده ومومـي او پـه ټولـه کـې بـه د مـلي اقتصـاد د پیاوړتیـا سـبب وگرځـي او افغانسـتان بـه رښـتیني اقتصـادي پـه ځانگـړې توگـه کرنیـزي ځـان بسـیاینې تـه ورسـوي. د دې کانـال او دې تـه ورتـه نـورو مـلي پـروژو پـه تـر سره کولـو کـې د مـلي سـوداگرو گډون او پانگونـه هـم لـه گټـو او ښـې راتلونکـې خـالي نـه ښـکاري او پـه پـلي کولـو کـې یـې رغنـده او د حکومـت او خصوصـي سـکټور پـه همکارۍ کـې اغېزمـن تمامېـږي.

د افغانسـتان اسـلامي امـارت کلـك هـوډ لـري، چـې د قـوش تیپـې کانـال پـه څېـر نـوري مـلي او ټولگټـې پـروژې پـه ټـول هیـواد کـې پـلي کـړي. دغـه پـروژه یـوه لویـه مـلي پـروژه ده، چـې د هیـواد پـه کچـه بېسـاري ده او د حکومـت لـه لـوري ځانگـړې پاملرنـه ورتـه سـوې ده. د دې کانـال اوږدوالـی ۲۸۵ کیلـو متـر تـه رسـېږي او پـه هیـواد کـې د سـترو او مـلي پـروژو پـه پـلي کولـو سره هـم زرگونـه ځوانانـو او کاریگـرو تـه د کار چـاره برابرېـږي او هـم بـه پـه راتلونکـي کـې د مـلي عوایـدو ډېرولـو پـه برخـه کـې سـتره ونـډه ولـري او تـر ډېـره بریـده بـه مـو لـه بهرنیـو مرسـتو لاسـونه را لنډ کـړي. د هیـواد پـه کچـه د قـوش تیپـې کانـال د پـروژې سـتره ځانگړنـه دا ده؛ سره لـه دې چـې د کار زمینـه برابـروي او د کـرنې سـکټور تـه اوږه ورکـوي ترڅنـگ یـې لـه خپلـې مـلي بودیجـې پیسـې ورتـه ځانگـړې سـوې دي دا پـه تېـرو څـو کلونـو کـې لومـړی ځـل دئ، چـې دومـره سـتره پـروژه لـه خپلـې مـلي بودیجـې خپـل لگښـت ترلاسـه کـوي او اسـلامي امـارت پـه کمـه مـوده کـې وکـولای سـول، چـې یـوه سـتره مـلي پـروژه پـه لاره واچـوي او پـه راتلونکـې کـې د نـورو مـلي پـروژو لپـاره چمتـو والـی ونیسـي.

نـو پـه پـای کـې بایـد دا ووایـوو چـې ۷۰ سـلنه افغانـان پـه کرنـه او مالـدارۍ بوخـت دي او کرنیـزې چـارې لـه اوبـو پرتـه ناشـونې برېښـي، د زراعـت د پیاوړتیـا پـه برخـه کـې دا یـو ښـه خـبر دئ، چـې د قـوش تیپـې کانـال پـه بشـپړېدو سره بـه کرنـه او مالـداري وده وکـړې او هیـواد بـه پـه کورنیـو غلـو دانـو تکیـه پیـدا کـړي. هیوادونـه هیـڅ کلـه هـم د پردیـو پـه مرسـتو نـه، بلکـې د خپلـو خلکـو پـه هڅـو او زیـار ابادېـږي. کـه چیرتـه ټـول هیوادوال یـو بـل تـه لاس ورکـړي او یـو بـل ومنـي د قـوش تیپـې کانـال د پـروژې پـه څېـر بـه لسـگونه نـورې پـروژې پرانیسـتل سي او یـو خپلـواک اقتصـادي تحـرک بـه رامنځتـه سي.

## اخبار مهم هفته



د مالیې او عامې روغتیا وزیرانو پر دوه اړخیزه همکارۍ ټینگار وکړ

۴






د مالي کال د تعدیل پلې کېدو د لاربنود خبرتیا!

۴



مور او تاسو ځان څنگه پېژندلې شو

۴



د مالیاتي محاسبینو خبرتیا!

۴



منابع طبیعی؛ الفبای رشد وتوسعه اقتصادی افغانستان

٤

شتمني
SHTAMANAI

## موږ او تاسو ځان څنګه پېژندلی شو

ابو محمد ابراهيمي

په انساني ټولنه کې پوهان او علما په دې موافق دي چې د يو انسان ژوند د هغه له کړوړو څخه هم کېدلای شي او هم بد کيدلای شي.
پر انسان باندې چې الله تعالی څومره لوی نعمتونه پر زو کړي دي هغه که د انسان داخلي تحرکات دي اوکه د هغه فکر او ذهن دی چې دا خپله يوه لويه انرژي او طاقت دی. انسان ته الله تعالي د ځمکي پرمخ لوی عزت ورنصيب کړی دئ، ترټولواهمه مسئله د ځمکي د امارت، د ځمکې د آبادۍ، د ځمکې پرمخ الله تعالی انسان ته د هرډول کړنو اختيارات ورکړي دي، همدا انسان دئ، چې کومې کړني ترسره کوي د ښو کړنو يا په اصطلاح د الهي اوامرو ترسره کولو کې نېکمرغي به تر لاسه کوي او د بدو اعمالو يا ناروا کړنو په ترسره کولو به بد بدبختي ويني او د ګناهکارانو په ډله کې به حسابيږي، هوښياراو ايماندار انسان ته په کار ده چې د دغه لويې انرژۍ اوطاقت څخه سمه ګټه واخلي او پر وخت له دې قوت او انرژۍ څخه هم د ځان او ټولنې د آبادۍ لپاره کار واخلي.
که چيرې په رښيتني توګه له دې ځواك او انرژۍ څخه په پوره توګه استفاده وشي او پر ځای وکارول شي يقيناً چې ډېر ژر به همدا انسان هغه څه تر لاسه کړي؛ کوم چې په پرمختللو ټولنو کې برياليو او خپلو موخو ته رسيدلواشخاصو تر لاسه کړي دي. ممکن لوستونکي پوښتنه وکړي چې دا داخلي تحرك څه شی دئ؟ ډير په ساده او آسانه توګه يې ځواب پيدا کولای شو، داخلي تحرك يو بهرنی شی نه دئ، چې موږ يې د باندې لټون پيل کړو او يوې اوبلي خواته پسي وګرزو، لاړشو او تلاش پسي وکړو او يايې له چا څخه وغواړو، زموږ ځواب به دا وي هغه څه چې موږ پرې فکر کولای شو، موږ پرې تصميم نيولی شو او موږ يې په خپل داخلي برخه کې احساس کوو، لکه خپل ايمان باندې باور، خپل ويجدان پيژندنه، د خپل نفس پيژندنه، پرخپل ځان قوي اعتماد او باور لرل، د خپل فکري قوت کنټرول کول، ښې او نيکې هيلې او هوډ لرل، پر ځای او ګټور تصميمونه نيول او د دې ترڅنګ يوشمير نور ګټور ګامونه او چارې ترسره کول دي چې ډير په آسانۍ سره پرې ځان پيژندلی شو
د انسان په باطن کي چې کوم داخلي قوت پروت دئ هغه په بل هيڅ شي کې نشته يوازي ځان مطالعه کول او په سمه بڼه د ځان پيژندنې ته اړتيا ده، که مو ځان په سمه بڼه وپيژانده او داخلي انګيزه ژوندۍ او پيا وړې شوه؛ نوفکر وکړه چې فولادي ديوالونه دي له ځانه تاو کړي دي او ټولې وړې او لويې ستونزي دي ختمې کړي دي او د بريا تر اوچت منزله به ډير په آسانه ورسيږې.
هغه کسان چې په خپل ژوندانه کې بريالي دي او په ټولنيز ژوند کې تر ډيرو لوړو او اوچتومنزلونوته رسيدلي دي له سختو او ډول ډول ناخوالو او مشکلاتو سره يې مبارزه کړې او په ډيره سختۍ د خپل ژوند له ستونزو څخه راوتلي دي او خپلو موخو ته رسيدلي دي.
دا موضوع ډيره پېچلې او اوږده موضوع ده او په لنډ ډول تشريح کو خول آسان نه دي؛ خو همدومره بايد پوه شو چې په هرډول حالاتو کې ځان پيژندنه ضروري ده. زموږ په ټولنه کې نن دا موضوع هيره شوې ده موږ ته په کار ده چې له خپل ځان پيژندنې نه خپل ژوند پيل کړو او د روژې په دې مبارکه مياشت کې چې دعبادت لپاره يوښه فرصت لرو او هم د ځان پيژندنې يو ښه چانس دئ .
د ځمکې پرمخ ټول انسانان هغه که مشران دي که کشران، که ورونه دي او که خويندې بايد خپل مسؤليت ته په درنه سترګه وګوري، خپل ځان وپيژني او د يوښه عمل په ترسره کولو کې هڅه او کوښښ وکړي؛ ترڅو مو په ټولنه کې خپل مو خپل حق اداکړی وي او په راتلوونکې کې خدای مه کړه د پښيمانتيا سبب نه شي. او که له خپل فکر، عقل، وجدان، ايمان سره مو جفا وکړه اوغلطه استفاده مو ترې وکړه نو پايلې به يې ناوړه برخليك ولري او په ټولنه کې به خطرناکوستونزو او ګواښوونه سره لاس اوګريوان شي.
په ګران هيواد کي د تلپاتې سولې په هيله

# د ماليې او عامې روغتيا وزيرانو پر دوه اړخيزه همکارۍ ټينګار وکړ



د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري او د عامې روغتيا وزير ډاکټر قلندر عباد، د دواړو ادارو ترمنځ د غوره همغږۍ رامنځته کولو او دوه اړخيزه همکاريو پر ټينګښت ليدنه او تفصيلي خبرې وکړې.
په دې ليدنه کې چې د دواړو ادارو يو شمېر مسؤلينو هم ګډون کړی وو، دواړو لورو د دوه اړخيزه همکارۍ په رامنځته کولو، د ابن سينا فارمسي شرکت د چارو د لا ښه تنظيم، د عامې روغتيا وزارت د نيمه کاره پاتې پروژو پر بشپړېدو، د نا بشپړو سوو پروژو پر مالي ستونزو او يو شمېر نورو اړينو موضوعاتو خبرې وکړې.
د عامې روغتيا وزير ډاکټر قلندر عباد، د ماليې وزارت له سرپرست سره په خبرو کې وويل: موږ په تخنيکي او تخصصي برخه کې بشپړ مجرب پرسونل لرو، خو يوازې د پروژو د بشپړولو او ځينو برخو د تنظيم لپاره مالي ملاتړ ته اړتيا لرو، چې په دې تړاو د ماليې وزارت د همکارۍ غوښتونکي يوو.
د د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري، نوموړي ته په مالي برخه کې د ډاډ ورکولو ترڅنګ وويل: د ماليې وزارت د روغتيا برخې ته ځانګړې پاملرنه لري، ترڅو د روغتيا سکټور د تل لپاره پر خپلو پښو ودرېږي او د ماليې وزارت به د خپلو مالي امکاناتو په پام کې نيولو سره هر راز مرسته کوي او د روغتيا سکټور ته به په مشترك ډول د مالي امکاناتو اسانه لاره او چاره لټوي.

# د مالي کال د تعديل پلي کېدو د لارښود خبرتيا!

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست ټولو ماليه ورکونکيو ته خبر ورکوي چې مالي کال مخکې د مرغومي (جدې) مياشتي له لومړۍ نېټې څخه د ليندۍ مياشتې تر وروستۍ نېټې پورې وو، د ۱۴۴۳ هـ ق کال د جمادي الثاني د اوومې نېټې چې د ۱۴۰۰ کال د مرغومي مياشې له شلمې نېټې سره سمون خوري، د ا.ا.ا. د کابينې د (۱۸) ګڼې مصوبې د لارښووني پر بنسټ په لاندې ډول تعديل سوی دئ:
اول: ۱۴۰۱ مالي کال د وري مياشتي له لومړۍ نېټې څخه پيل او د ۱۴۰۱ لمريز کال د کب د مياشتي پر نهه ويشتمه نېټه پای ته رسيږي.
دوهم: د ۱۴۰۰ کال د مرغومي، سلواغې او کب مياشتي چې په يوې ربعي پورې اړوند کېږي په استثنايي ډول له ۱۴۰۱ کال سره مل دئ ( ۱۴۰۱ مالي کال په استثنايي ډول ۵ ربعې يا ۱۵ مياشتې کېږي) او د عوايدو د سيستم رياست ته د نده سپارل سوې، چې ټول مالياتي سيستمونه په دې اړوند چمتو کړي.
د مالي کال د تعديل لارښود په اړه دلازياتو معلوماتو لپاره د عوايدو لوی رياست د ارتباطي خدمتونو مرکز له (۱۰۰۰) شمېرې سره اړيکه ونيسئ او يا هم د ماليې وزارت (mof.gov.af) او د عوايدو لوی رياست (ard.gov.af) ويبپاڼو د مالياتي لارښودونو برخې ته مراجعه وکړئ




# مکتـوب متحدالمال وزارت ماليه

**موضوع : چگونگی عدم سفارش اسناد بهادار و مصئون از جانب ساير ادارات**

متکی به ماده هفتم قانون امور مالی و مصارف عامه، يکی از وظايف کليدی رياست عمومی خزاين وزارت ماليه ، عبارت از تخمين عوايد و مصارف جهت تعيين وضعيت مالی دولت، ادارۀ مؤثر منابع مالی دولت از طريق تمرکز عوايد بودجوی ، پلان گذاری مؤثر مالی و ادارۀ به موقع مصارف بودجوی و همچنان تهيۀ معلومات مبنی بر وجوۀ دارايی ها می باشد و بر وفق حکم مندرج جز (۱۲) ماده نهم قانون متذکره، وجوه حاصله از مدارك صدور اسناد بهادار ملی و بين المللی بعد از تحصيل به دارئی عامه مبدل گرديده و با در نظر داشت ماده يازدهم قانون ياد شده، وجوه حاصله از درک صدور اسناد بهادار بالا فاصله به حساب واردات دولت قابل تحويل می باشد و برحسب فقره (۳) ماده دوم مقرره تنظيم امور مالی و مصارف عامه، کليه ادارات دولتی و مؤظفين اداره امور مالی و مصارف عامه مکلف اند، احکام قانون امور مالی ومصارف عامه، طرزالعمل بودجه سالانه، احکام اين مقرره، طرزالعمل ها، لوايح و رهنمودهای اداره خزاين و زارت ماليه را به منظور اداره بهتر امورمالی و مصارف عامه تطبيق نمايند.
از آنجائيکه اسناد بهادار و مصئون (صکوك ) از جمله دارايی های دولت محسوب می گردد، بنابرين جهت ادارۀ موثر دارايی های دولت و اجراآت همگون مالی در تمام واحد های بودجوی، هيچ يک از ادارات صلاحيت سفارش مستقيم اسناد بهادار و مصئون را نداشته و هر گاه ادارات محترم به هر نوع اسناد بها دار و مصئون ضرورت داشته باشند، می توانند در خواست های شان را به رياست عمومی خزاين اين وزارت ارسال، تا بعداً از طريق مديريت عمومی صکوك رياست خزاين، پيرامون موضوع اجراآت اصولی بعدی صورت گيرد.

شتمنی
SHTAMANAI

## د گمرکونو او عوایدو معین په خوست ولایت کې له یو شمېر ملي سوداګرو سره وکتل



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج ملا محمد ناصر اخند، تېره ورځ خوست ولایت ته د یو رسمي سفر په لړ کې د یاد ولایت د ګمرک په ریاست کې له یو شمېر ملي سوداګرو سره، چې د غلام خان بندر له لارې سوداګري کوي، وکتل.

په دغه کتنه کې چې د ګمرکونو لوی ریاست سرپرست، تخنیکي او حمایوي مرستیال خانزاده عبدالله او د خوست ولایت د ګمرک رئیس هم ګډون درلود، په پیل کې سوداګرو په ګمرکونو کې د وروستیو اصلاحاتو او اسانتیاوو راوستلو له امله د مالیې وزارت له رهبرۍ څخه مننه وکړه او شته ستونزې او وړاندیزونه یې ورسره شریک کړل.

د ګمرکونو او عوایدو معین له یادو سوداګرو سره ژمنه وکړه، چې دوی ته به په سوداګریزو چارو کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته کوي او شته امکاناتو ته په کتو به د دوی ټولو ستونزو ته پر وخت رسېدنه کیږي. د ناستې په پای کې دواړو لوریو یو بل ته په اړوندو چارو کې د هر اړخیزو همکاریو او اسانتیاوو برابرولو پوره ډاډ ورکړ.

## امتحان تحریری ۳ بست قراردادی(NTA) شرکت های دولتی  دایر گردید

امتحان تحریری ۳ بست قراردادی (NTA) شرکت های دولتی با اشتراک عبدالحق منصور، آمر ارتباط خارجه، عبدالبصیر عظیمی، متتخصص منابع بشری و احمد حسن احمدی، رییس مالی، نظارت و ارزیابی شرکت های دولتی در خیبرهال وزارت مالیه دایر گردید.

عبدالحق منصور، امر ارتباط خارجه، ضمن خوش آمدید به اشتراک کنندگان گفت، برگزاری امتحانات از طریق رقابت آزاد یکی از تعهدات رهبری وزارت مالیه می باشد. رهبری وزارت مالیه جداً تلاش می کند اشخاص متعهد، صادق و و شایسته را به خدمت بگیرد. ازبرگزاری امتحان سه بست قراردادی امروز با رعایت اصل شفافیت و عدالت و شایسته سالاری به شما اطمینان می دهیم. خداوند به ما توفیق عنایت کند حق مردم را ادا کنیم.

عبدالبصیر عظیمی، متخصص منابع بشری ضمن ارائه معلومات مورد شیوه امتحان و طرز سوالات به اشتراک کنندگان، گفت، این سه بست تخصصی (متخصص توسعه تجارت و کسب کار، متخصص تفتیش مالی و متخصص ارشد حقوقی ) مربوط به شرکت های دولتی بوده که برای انجام بهتر امور به رقابت گذاشته شده است.

قابل یاد آوریست که حدودآ (۲۵ ) تن واجد شرایط در این امتحان اشتراک نموده بودند.



# د مالیاتي محاسبینو خبرتیا!

د مالیاتي چارو د اداري قانون د دري دېرشمې (۳۳) مادې له مخې ټول مالیاتي محاسبین چې مالیه ورکوونکیو ته په مالیاتي چارو کې د مالیاتي مشورو، د مالیاتي اسنادو د چمتو کولو، د محاسبې اړوند او نور مالیاتي خدمتونه وړاندې کوي، د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست سره ثبت او باید د مالیاتي محاسبینو جواز ولري.

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست په پام کې لري چې د مالیاتي محاسبینو د ثبت او هغوی ته د جواز د ورکړې د ځلورمې دورې پروسه پیل کړي.

په همدې موخه هغه کسان چې د لاندې شرطونو لرونکي وي، د ۱۴۰۱ لمریز کال د وري میاشتې له پینځه ویشتمې (۲۵) نېټې څخه د غویي میاشتې تر درویشتمې (۲۳) نېټې پورې د ګمرکونو او عوایدو معینیت کې د عوایدو لوی ریاست اړوند د حقوقي خدمتونو ریاست د مالیاتي محاسبینو لوی مدیریت ته دې مراجعه وکړي او غوښتنلیک دې تر لاسه کړي.

### د مالیاتي محاسبینو د ثبت شرایط

(۱) د مالیاتي چارو د اداري قانون د دري دېرشمې (۳۳) مادې پر لومړۍ فقرې سربېره لاندېنې شرایط باید د مالیاتي محاسب د ثبت له پاره په پام کې ونیول سي:

- ✓ شخص باید په قانوني امورو مکلف وي؛
- ✓ په اقتصاد، محاسبې، ACCA، حقوق، اداره او تجارت کې د اسنادو په کتو حد اقل د لېسانس تر کچې د لوړو زده کړو درلودونکی وي.
- ✓ د دولت رسمي او برحال اداري کارمند نه وي.
- ✓ د محکمې له خوا د مجرم په توګه پېژندل سوی نه وي.
- ✓ شخص به بل شخصي شرکت نه لري، ځکه د منافعو د تضاد مخنیوی وسي.

(۲) د مالیاتي مشورتي شرکت مسئولین که پر پورتنیو شرطونو برابر وي، د دې طرزالعمل په رڼا کې د جواز مستحق دي او هم نور مالیاتي محاسبین په خپل دفتر کې استخدامولای سي.

### د ازمویني پوښتني

(۱) مالیاتي قوانین، پر عایداتو باندې د مالیاتو لارښودونه، د مالیاتي چارو اداري لارښود او همدارنګه مالیاتي مقررات، طرزالعملونه او عمومي حکمونه.
(۲) د محاسبې اساسي اصول.
(۳) سوداګریزه محاسبه.
(۴) مدیریتي حسابداري.
(۵) مالي حسابداري.
(٦) د پانګوني او شرکتونو قانون، سوداګریز قوانین او نور مالي قوانین.

پر شرایطو برابر کسان له پورتنۍ مرجع څخه د غوښتنلیک فورمه تر لاسه کولای سي او تر ډکولو وروسته د تحصیلي اسنادو او د تذکرې له کاپیو سره دي یو ځای بېرته اړوندي مرجع ته وسپاري او یا دې په برېښنايي ډول لاندېنیو برېښلیکونو ته واستوي.

یادونه: که څوك په برېښنايي توګه نوملیکنه کوي، نو د لاندیني لینك له لاري دي خپله نوملیکنه وکړي.

د لازیاتو معلوماتو له پاره په لاندېنیو شمېرو او برېښلیکونو سره اړیکه ټینګولی سئ.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۰۰۵ - ۰۲۰۲۹۲۴۹۱۵

برېښلیکونه: obaid.arabzai@mof.gov.af / ebad.darman@mof.gov.af

# شتمنی SHTAMANAI

## کابل ولایت د گمرک په معاونیت کې دوه تنه د بډې اخیستني پر مهال لاس په لاس ونیول سول




د کابل ولایت د گمرک ریاست، د تنفیذ قانون ریاست او د استخباراتو (۰۴) ریاست په ګډه همکارۍ د دې ولایت گمرک کې دوه تنه د بډې اخیستني پرمهال ونیول سول. دغه دوه کسان میرویس د محمد عزیز زوی او نور عزیز د محمد عزیز زوی، چې دواړه د شېرم بست کارکوونکي دي د ٦۰۰۰ زره افغانیو بډو اخیستو پر مهال چې هر یوه ته ۳۰۰۰ زره افغانۍ ونډه رسېده د کابل ولایت د گمرک ریاست او د استخباراتو (۰۴) ریاست په ګډو هڅو لاس په لاس ونیول سول.
د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړې توګه د مالیې وزارت په ټولو عایداتي سرچینو او ادارو کې روڼتیا او له هر ډول ناوړه ګټې اخیستني پاکې اداري ته ژمن دی او هیڅ چا ته به اجازه ورنکړي، چې په اداري فساد کې ښکېل او له امکاناتو ناوړه ګټه پورته کړي.

د امتیاز خاوند: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: محمد نبي سلطاني
کتنپلاوی: اجمل زاهد او محمد ابراهیم گران
د خبر مدیر: داود نظري
خبریال: سید مصطفی سروش
د معلوماتو راټولوونکی: محمد افضل الکوزی
عکاس: فضل احمد یوسفزی
ډیزاینر: محمد نسیم ظهوري

د مالیې وزارت نشرات په لاندي آدرسونو کتلای سئ:
ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan mof

# منابع طبیعی؛ الفبای رشد وتوسعه اقتصادی افغانستان



افغانستان که در قلب آسیای میانه قرار دارد، آینده اقتصادی‌اش به پتانسیل منابع طبیعی بسته‌گی دارد. بخاطر غنای طبیعی که دارد انواع منابع معدنی وطبیعی در این جغرافیای طبیعی یافت میشود. برخی منابع معدنی افغانستان از لحاظ کیفیت، خلوص وسهولت استحصال شاید در دنیا کم نظیر باشد. ذخایر معادن، بزرگ ترین امید برای رشد و بالندگی اقتصاد این کشور است تا افغانستان با استفاده از این فرصت به استقلال اقتصادی برسد و از وابستگی های اقتصادی نجات یابد. امارت اسلامی افغانستان تلاش دارد شرایط فعلی این کشور را تغییر دهد و استخراج معادن افغانستان جایگزین کمک های خارجی گردد.از ابتدای قرن نزدهم، تعداد محقیقین داخلی وخارجی مطالعات گسترده در مورد منابع معدنی کشور انجام دادند. اطلاعات حاصل از این مطالعات حاکی از آن است که ارزش معادن کشور تقریباً یک الی سه تریلیون دالر است. افغانستان دارای سرشار از منابع طبیعی است. به طور کلی بیش از یک هزار و ٤۰۰ منطقه معدن در افغانستان وجود دارد، نفت، گاز طبیعی، زغال‌سنگ، مس، کروم، آهن، طلا، نقره، سنگ مرمر،زمرد وغیره از منابع مهم کشور به شمار میرود. افغانستان از نظر وضعیت اقتصادی در ردیف پایین‌ترین کشورهای جهان، اما از نظر ثروت زیرزمینی در ردیف ثروت‌مندترین کشورهای جهان قراردارد. نفت و گاز طبیعی، یکی از مهم‌ترین منابع طبیعی است از گذشته تا به امروز در رشد اقتصادی نقش حیاتی داشته است. نخستین بار منابع گاز طبیعی در افغانستان در سال ۱۹٦۷ کشف شد. در دهه ۱۹۸۰ فروش گاز طبیعی ۳۰۰ میلیون دالر در سال بوده که ٥٦ درصد از درآمد صادراتی کشور را به خود اختصاص می‌داد و مقدار بیش‌تر این گاز طبیعی به اتحاد جماهیر شوروی صادر می‌گردید همچنان در سال ۱۳۹۱ براساس اعلام وزارت معادن افغانستان ویک شرکت تحقیقاتی زمین شناسی آمریکایی مقدارمیعانات گاز به ٤٤٤ میلیارد مترمکعب ومواد نفتی به بیش از یک ونیم میلیارد بشکه نفت می رسد که درحوزه نفتی آمودریا بین افغانستان وتاجکستان قرار دارد درهمین سال با حضور مقامات افغانی وچینی استخراج نفت از میدان نفتی انگوت ولایت سرپل آغاز گردید بر اساس اظهارات مسولان وقت وزارت معادن وپیش بینی های انجام شده در همان زمان تا هفت سال افغانستان از طریق تولید مواد نفتی به خود کفایی می رسد. درآمد پیش بینی شده از این معدن برای افغانستان در ۲۳ سال آینده، ۷ملیارد دالرامریکایی پیش بینی شده بود، به این اساس گفته میتوانیم افغانستان هم از لحاظ گاز طبیعی و هم از لحاظ نفت یک کشور ثروت‌مند در منطقه می‌باشد.
معادن یکی از بخش‌های اصلی شکل‌دهنده تمدن‌ها در طول تاریخ بوده است. با پیدایش مکاتب اقتصادی یکی از مهم‌ترین اهداف کشورهای جهان رشد و توسعه اقتصادی بوده است. پس از جنگ جهانی دوم، کشورها برای سرعت بخشیدن رشد و توسعه اقتصادی به کمبود منابع و سرمایه مواجه بودند. منابع طبیعی، به طور کلی در رشد و توسعه اقتصادی یک کشور نقش حیاتی داشته و باعث سرعت بخشیدن این روند می‌شود. اساساً دو رویکرد متفاوت در مورد تأثیر منابع طبیعی غنی بر رشد اقتصادی وجود دارد. در رویکرد اول، ثروت زیرزمینی برای رشد اقتصادی کشور نعمت تلقی می‌شود، در حالی که در رویکرد دومی، ثروت زیرزمینی به عنوان یک لعنت برای رشد اقتصادی کشور توصیف می‌شود. طبق رویکرد اول، کشورهایی که دارای منابع طبیعی غنی بودند با مدیریت قوی، سریع‌تر رشد کردند، مانند کشورهای شیلی و بوستونا. اما طبق رویکرد دومی، کشورهایی (مکزیک، نایجریا و ونزوئلا) که دارای منابع طبیعي غنی بودند، نسبت به کشورهایی که منابع طبیعی نسبتاً کمی دارند و یا فاقد منابع طبیعی بودند (هانگ‌کانگ، سنگاپور، تایوان، کوریای جنوبی) بنا بر نبود مدیریت قوی سرعت رشد کم‌تری نموده است. این وضعیت به عنوان «لعنت منابع طبیعی» گفته می‌شود.
افغانستان با داشتن معدن مس عینک ولایت لوگردر جهان پس از کشور شیلی در جایگاه دوم قرار دارد، ذخیره تخمینی ۲٤۰ میلیون تن میباشد، مساحت کل این معدن بیش از ۸۰۰ کیلومتر مربع است. طبق محاسبات صنعتی صورت گرفته تاکنون، ارزش اقتصادی این معدن ۱۳ میلیون تن مس است. معدن حاجی‌گک؛ نظر به گزارش‌ها در کشور ۱۱۰ میلیون تن موجودیت ذخایر این معدن تخمین شده است. تنها این دو معادن بزرگ، سالانه می‌تواند به شکل چشم‌گیر درآمد کشور را افزایش داده و کسر تجارتی را کاهش دهد. آینده اقتصادی افغانستان پس از کاهش کمک های خارجی به شدت به درآمد منابع طبیعی نیازاساسی دارد. از سوی دیگر بی کاری که یک معضله مهم در افغانستان شناخته شده، با رشد جمعیت این کشور رو به افزایش است. براساس گذارش آمار مرکزی افغانستان کل جمعیت این کشور در سال ۲۰۲۱ به ۳۳,٦ میلیون نفر رسیده است. از آن جایی که این کشور به طورکلی جمعیت جوان دارد، سالانه تقریباً ٤۰۰ هزار جوان وارد بازار کار می شوند.با این حال، برخی از این جمعیت نمی توانند شغلی پیدا کنند،برای یافتن شغل به خارج از کشور مهاجرت می کنند. آینده اقتصادی کشور تا حد زیادی به منابع طبیعی غنی بسته گی دارد. در صورت دست یابی به استخراج این منابع ممکن است هزاران فرصت شغلی در کنار افزایش درآمد ایجاد شود. براساس برآورده ها دولت افغانستان منابع معدنی مس عینک وحاجی گک که به عنوان ثروت مندترین ذخایر کشور شناخته می شوند، می توانند با در آمد سالانه بیش از ۱۰ هزار فرصت شغلی را فراهم کنند. بنا برین، افغانستان می تواند وابستگی خارجی اش را با درآمد حاصل از آن کاهش دهد. از سوی دیگر، می تواند راه حل مشکل بی کاری را پیداکند. رشد اقتصادی افغانستان در دو دهه گذشته وابسته به کمک‌های خارجی بوده است. معادن غنی افغانستان از منظر کارشناسان، پالیسی‌سازان و نهادهای همکار بین‌المللی به عنوان یک ظرفیت بالقوه اقتصادی تلقی شده که می‌تواند منابع ارزی خوبی برای کشور بوده، سرمایه گذاری‌های خارجی مرتبط با منابع طبیعی را جذب و نقش مهم در رشد و توسعه اقتصادی افغانستان داشته باشد. برای افغانستان تراژدی بزرگ خواهد بود در صورتی که منابع طبیعی دست نخورده‌اش که ظرفیت تبدیل شدن به ثروت بزرگ را دارد و روزنه‌ای امید برای توسعه اقتصادی -اجتماعی، رشد اقتصادی پایدار و کاهش فقر می‌باشد؛ منجر به افزایش فساد، تنش‌های اجتماعی و عقب‌ماندگی کشور گردد. در نتیجه، کشور دچار نفرین منابع‌طبیعی می گردد. سیاست‌گذاران وپالیسی سازان اقتصادی فعلی کشور باید بصورت استراتژیک در این زمینه نگاه انداخته و با الهام از کشورهای دارای وفور منابع‌طبیعی که توانسته‌اند منابع شان را به سود رونق اقتصادی و رفاه اجتماعی سوق دهند، استفاده نموده و افغانستان را از احتمال سردچار شدن به نفرین منابع طبیعی نجات دهند. استفاده موثر از منابع طبیعی کشور، ظرفیت آن را دارد تا افغانستان را از یک کشور فقیر و وابسته به کمک‌های خارجی نجات داده و زمینه توسعه اقتصادی - اجتماعی کشور را فراهم سازد.



# کتابتون

## د مالیې وزارت کتابتون:



د مالیې وزارت کتابتون په ۱۳۸۰ هجري شمسي کال کې د دې وزارت د بشري سرچینو ریاست په تشکیل کې، د کارکوونکو د علمي ظرفیت لوړوني او معلوماتو ترلاسه کولو په موخه رامنځته سوی.
دغه کتابتون په مختلفو علمي،اسلامي، څېړنیرو، اقتصادي، مدیریتي، قانونپوهني،عمومي معلوماتو او نورو بیلابیلو برخو کې، په پښتو درې او انګیسي ژبو زرګونه ټوکه کتابونه لري، چې اوسمهال ورته د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست له لوري ځانګړې پاملرنه سوې ده.
د یادونې وړ ده، چې په دغه کتابتون کې سلګونه ټوکه ډیجیټلي کتابونه هم شتون لري، چې د وزارت د کارکوونکو ترڅنګ، نور اشخاص د مطالعې مینه وال او په ځانګړي توګه زده کړیالان هم کولای سي، چې د معلوماتو ترلاسه کولو او څېړنو په موخه ترې ګټه پورته کړي.